# د کډوالۍ سرچینې او معلومات

## د دې سرچینې په اړه

دا سند د کډوالو او پناه اخیستونکو د چارو پر مخ وړلو دفتر ( Office of Immigrant and Refugee Advancement – OIRA) له خوا چمتو شوی دی. په دې سند کې د اوریګون ایالت لپاره د کډوالو، پناه اخیستونکو او ګډ قانوني موقف لرونکو کورنیو د باور وړ ټولنیزې، ایالتي او ملي سرچینې لیست ځای پر ځای شوی دی. موخه دا ده چې اشخاص او کورنۍ له معلوماتو، چوپړتیاوو، او حقوقي او ټولنیز ملاتړ سره ونښلوي. د مسئولیت ردول: *دا سرچینه یوازې د معلوماتو لپاره ده او د حقوقي مشورې حیثیت نه لري. د بهرنیو ادارو او اړیکو شتون، له هغوی څخه د یاد دفتر ملاتړ نه څرګندوي.*

## د مرستې وړیا تلیفوني لیکې

**د پورټلنډ د کډوالو د حقونو ائتلاف (Portland Immigrant Rights Coalition - PIRC)** 888-622-1510 په ټولنه/سیمه کې د بیړني غبرګون یا د کډوالۍ د قوانینو د پلي کېدو په تړاو د حقوقي ملاتړ د غوښتنې لپاره.

**د اوریګون د عدلیې اداري (DOJ) د مرستې تلیفوني شمېرې:**

- **د پناه ورکولو د ژمنې (Sanctuary Promise Sanctuary Promise) اړوند مرستې تلیفوني شمېره** 844-924-7829 د د ایالتي، سیمه‌ییزو، ځانګړو دولتي ادارو او د قانون د پلي کوونکو لخوا د اوریګون د پناه ورکولو ژمنې د قانون د احتمالي سرغړونو راپور ورکولو لپاره.
- **د تعصبي چلند پر وړاندې د غبرګون تلیفوني شمېره** 844-924-2427 د تعصب، تبعیض یا نابرابر چلند پېښو راپور ورکولو لپاره.

**د اوریګون د مدني خپلواکۍ اتحادیه**
| [aclu-or.org](aclu-or.org) 503-227-3186 **د مدني حقونو او نیوکو اړوند اندېښنو لپاره .**

**د اوریګون د کارګرو ملاتړ صندوق**
| [workerrelief.org](workerrelief.org) 1-888-274-7292 **د مالي ملاتړ او د کارګرانو د مرستې لپاره .**

## نورې سرچینې

**د اوریګون د برابرۍ انجمن**: 🌐 [equitycorps.org/enroll](equitycorps.org/enroll) د هغو کسانو لپاره وړیا د کډوالۍ حقوقي چوپړتیاوې چې شرایط یې ولري.

**د امریکا د کډوالۍ او ګمرکونو اداره (Immigration and Customs Enforcement - ICE)** له لوري نیول شویو کډوالو د موندلو آنلاین سیستم: 🌐 [locator.ice.gov/odls](locator.ice.gov/odls) د هغو کسانو لټون چې کېدای شي د کډوالۍ د ادارو له لورې بندیان وي.

**اوریګون د ټولو لپاره**: 🌐 [oregonforall.us/resources](oregonforall.us/resources) ټولنیزې/سیمه‌ئیزې سرچینې او کډوالو ته د عدالت لارښودونه.

**د اوریګون د بشري چوپړتیاوو د ادارې د پناه اخیستونکو پروګرام**: 🌐 [oregon.gov/odhs/refugees](oregon.gov/odhs/refugees) د هغو کډوالو لپاره معلومات او مرسته چې په اوریګون کې مېشتېږي.

**د اوریګون حقوقي مرستې ویبپاڼه**: 🌐 [oregonlawhelp.org](oregonlawhelp.org) د معلوماتو وړیا کتابتون، د باور وړ، وړیا قانوني معلومات چې د کور، د کورنۍ قانون، امتیازاتو، کار او کډوالۍ په ګډون ګڼ موضوعات رانغاړي. سرچینې په ډېرو ژبو شته دي.

**د بشري چوپړتیاوو په اداره کې وروستي فدرالي معلومات**

د کډوالۍ او د امتیازاتو پروګرامونو اړوند نوي او تازه شوي معلومات، په انګلیسي او هسپانوي .

**د پورټلنډ ښاروالۍ – د ټولنیزو او مدني چارو دفتر، د کډوالو او پناه اخیستونکو پروګرام**

🌐 **[portland.gov/civic/immigrants/resources](portland.gov/civic/immigrants/resources)**

د پورټلنډ سیمې کډوالو او پناه اخیستونکو لپاره سیمه‌ئیزې سرچینې او مرسته.

**د کډوالو او پناه اخیستونکو د ټولنې سازمان (IRCO) – ختیځ اوریګون**

🌐 **[https://irco.org/locations/eastern-oregon/](https://irco.org/locations/eastern-oregon/)**

د کډوالو او پناه اخیستونکو د ټولنې سازمان د آرام سمندر شمال لوېدیځ سیمه کې کډوالو او پناه اخیستونکو لپاره پراخ ټولنیز ملاتړ، چوپړتیاوې او د ځان بسایني پروګرامونه وړاندې کوي، تر څو نوي راغلي او زاړه مېشت شوي کسان سرچینو ته لاسرسی ولري.

## د خپلو حقونو د پېژندنې مواد

🌐 [د مدني خپلواکۍ امریکایي اتحادیه]()

د حقونو پېژندنې سرچینې وړیا معلومات او کارتونه چې په بېلابېلو حالاتو کې د افرادو قانوني حقونه تشریح کوي. په ګڼو ژبو شتون لري او په دوامداره توګه نوي کېږي.

🌐 **[د کډوالۍ قانوني سرچینې مرکز سور رنګه معلوماتي کارتونه]()** – وړیا څوژبنیز کارتونه چې خلکو سره مرسته کوي ترڅو د کډوالۍ د قوانینو پلي کوونکو ادارو سره د اړیکو نیولو پر مهال خپل بنسټیز حقونه خوندي وساتي.

## ملي سرچینې

**د کډوالۍ د ملاتړ ملي شبکه**

🌐 **[immigrationadvocates.org](immigrationadvocates.org)**

یو ملي غیرانتفاعي شبکه چې د کډوالو څخه ملاتړ کوونکو ادارو او افرادو لپاره روزنه، سرچینې او وسایل وړاندې کوي.

**د کډوالۍ حقوقي چوپړتیاوو ملي لاربنود**

🌐 [په اوریګون کې د حقوقي چوپړتیاوو لټون](#)

په ایالت، ولسوالۍ یا توقیف ځای پر بنسټ د وړیا یا ارزانه حقوقي مرستو موندل.

**د امریکا د تابعیت او کډوالۍ د چوپړتیاوو اداره (U.S. Citizenship and Immigration Services - USCIS) سرچینې**

🌐 [د امریکا د تابعیت او کډوالۍ د چوپړتیاوو ادارې لارښود](#)

د کډوالۍ، ویزو او تابعیت د پروسو په اړه عمومي معلومات.

🌐 [په اوریګون کې د کډوالو او پناه اخیستونکو لپاره د امریکا د تابعیت او کډوالۍ د چوپړتیاوو ادارې چوپړتیاوې](#)

په **اوریګون کې** د کډوالو او پناه اخیستونکو لپاره د فدرالي سرچینو او چوپړتیاوو اړوند معلومات.

---

تاسو دا سند په نورو ژبو، په لوی لیک، د ړندو لپاره لیک، یا په بله هره هغه بڼه وړیا ترلاسه کړئ چې تاسو یې غواړئ. د کډوالو او پناه اخیستونکو د چارو پر مخ وړلو دفتر بربښنالیک: .oira.info@odhsoha.oregon.gov د وینا او اورېدو ستونزو درلودونکي ټول کسان کولای شي چې له موږ سره اړیکه ونیسي.